# د ارباب سکندر خان خلیل شهید او د قیصه خانۍ د پېښې متعلق د یو توسیعي لکچر رپورټ

احسان الله

په ۲۳ اپرېل ۲۰۰۹ په باچا خان ریسرچ سنټر کښې د قیصه خانۍ د شهیدانو د ورځې په مناسبت یوه غونډه وشوه چې پکښې د دغه واقعې په حقله بحث وشو. په دې غونډه کښې محترم ځلان مومند، محترم ډاکټر فضل الرحیم مروت، ډاکټر محمد زبېر حسرت، محترم سعدالله جان برق، محترم پروفېسر نصیرالدین طالب، محترم فرهاد محمد غالب، محترم همایون خان، محترم مشتاق مجروح یوسفزے، محترم فضل الرحمان زاهد، احسان الله، ارباب داؤد، ارباب محمد طاهر خان خلیل، ارباب همایون خان او همایون اخوند حصه واخسته.

ارباب همایون خان د خپل مشر ورور خدائي خدمتګار او د پښتونخوا صوبې پخواني ګورنر ارباب سکندر خان خلیل په ژوند او د هغهٔ په سیاسي کردار توسیعي لیکچر ورکړو. د غونډې د کوربه فرائض ښاغلي ډاکټر زبېر حسرت ترسره کړل.




د غونډې شروع کوربه ډاکټر محمد زبېر حسرت وکړه او د غونډې باقاعده آغاز ئې د خپل استاد او رهبر خدائے بخښلي قلندر مومند د قصه خانې حوالې سره د رسالې "لیت و لار" له پاره لیکلي شوې اداریې نه وکړو کومه چې هغوي په ۲۲ اپرېل ۱۹۵۷ کښې لیکلې وه. هغهٔ دغه اداریه ولوسته او هغې نه پس ئې ښاغلي همایون اخوند ته د قصه خانۍ د شهیدانو د ورځې په حقله د خپل تحقیق وړاندې کولو د پاره دعوت ورکړو.

همایون اخوند شروع د دې نه وکړه چې زهٔ خو محقق نهٔ یم، بلکې پټواري یم خو تحقیق مې جنون

دے، په خاصه توګه د هغه خلقو په حقله چا چې د آزادۍ دپاره د پېرنګي خلاف کوشش شروع کړے ؤ. د دې دپاره ما شروع د ۱۸٤۹ نه د محافظ خاني ریکارډ کتل شروع کړل نو هغې کښې ډېرې بنیادي خبرې مخې ته راغلې. هغې کښې وړومبے دا چې د قصه خانۍ واقعه چې د څۀ نه شروع شوې وه هغه د پېرنګي رائیډر برائن Bryon کوم چې په موټر سائیکل ګرځېدو مړ کړے شو او هغې نه دغه قصه شروع شوه. دغه فائل چې ما راووېستو نو هغې کښې ډېرې ورځې تېرې شوې او ریکارډ په زمکه پروت د ګردونو نه ډک ؤ خو خبر زما دا کوشش ؤ چې معلومات حاصل کړم او هغه ما حاصل کړل. همایون اخوند ووې چې د قصه خانۍ واقعه زمونږ د پښتنو د عدم توجهۍ له وجې ډېره متنازعه شوې ده ځکه چې ښاریان وائي چې دا زمونږ د مشرانو کارنامه ده او په دې کښې یو پښتون نۀ دے مړ شوے د کومې له وجې چې د قصه خانۍ دې واقعې نور هم اهمیت اختیار کړے نو ځکه ما نور تحقیق هم ضروري وګڼلو او دې دپاره زۀ د پېښور ارکائیوز لائبرېرۍ ته لاړم او هلته مې د فرنټیئر ټرېجډي حوالې سره فائل راووېستو او هغۀ کښې څۀ ٤٥٠ کسانو نومونه راووتل چې دغه واقعې کښې مړۀ شوي دي او دغه اکثر زمونږ د چارسدې د مردان او د پېښور کسان دي، د دغې نه علاوه ما په دغه لائبرېرۍ کښې د باچا خان او د هغۀ د خاندان په حقله څۀ کم و زیات ۱۵ فائلونه ولیدل چې پکښې د باچاخان د لاس لیکلي خطونه او د هغۀ د خاندان لکه غني خان، ولي خان وغېره د لاس لیکلي خطونه هم شته. زۀ د پښتونخوا ګورنمنټ ته خواست کوم چې دغه فائلونه راوباسي او دلته ئې د باچا خان ریسرچ سنټر په لائبرېرۍ کښې کېږدي. د دې نه علاوه نور ډېر اهم ریکارډ د پښتنو په حقله د چارسدې او نوښار په محافظ خانو کښې پروت دے خو حفاظت ئې نشته او هغه رانه خرابېږي حکومت ته دا هم خواست کوم چې د هغې محفوظ کولو دې هم څۀ بندوبست وکړے وشي.

د همایون اخوند نه پس ډاکټر زبېر حسرت د غونډې مشر ښاغلي ډاکټر فضل الرحیم مروت ته خواست وکړو چې د قصه خانۍ د شهیدانو د ورځې په حقله خپلې خبرې وکړي.

ډاکټر فضل الرحیم مروت صېب خپلې خبرې د دې نه شروع کړې چې اوس خو شکر وباسئ چې دغه زوړ ریکارډ په ارکائیوز لائبرېرۍ کښې محفوظ پروت دے، دې نه وړاندې کله چې ما پي ایچ ډي کوله نو دغه ریکارډ د باچا خان چوک خوا ته یو عمارت کښې پروت ؤ چې هېڅ حفاظت ئې نۀ ؤ او کله چې به مونږ فائل کتو له ورتلو نو د ګرد دا حال ؤ چې مونږ به ځان سره تولیه د صفايۍ دپاره وړله او فائلونه به مو کتل. مروت صېب بیا د همایون اخوند هغې خبرې ته اشاره وکړه چې دغه ریکارډ هم دغلته ښۀ دے ځکه چې هلته ښۀ محفوظ پروت دے.

د مروت صېب خبرو ختمولو نه پس ډاکټر محمد زبېر حسرت ارباب همایون خان ته خواست وکړو چې د خپل مشر ورور ارباب سکندر خان خلیل په ژوند رڼا واچوي.

ارباب همایون خان د خپلو خبرو په اغاز کښې ووئیل چې ارباب سکندر خان خلیل خپله یو داسې

شخصیت ؤ چې د هغهٔ احاطه کول ډېره ګرانه ده، دغه دوران کښې ژړغونے شو او بیا ئې خپلې خبرې شروع کړې چې زمونږ پلار ارباب سعادت خان په ۱۹۳۰ کښې د قصه خانۍ د واقعې په وجه جېل ته لاړو او په ۱۹۳۰ کښې د هرې پور په جېل کښې وفات شو. هغه چې کله په جېل کښې بیمار شو نو د جېل سپرنټنډنټ ورله دوائې راوړه هغه د دغې دوایۍ استعمالولو نه انکار وکړو او دا خبره ئې وکړه چې زهٔ دلته د پېرنګې په دوایۍ ښهٔ کېدلو له نهٔ بلکې د هغوی دلته نه د شړلو دپاره راغلے یم.

ارباب صېب وړاندې ووې چې کله زمونږ والد صېب مړ شو نو هغه وخت زهٔ دوؤ کالو او ارباب سکندر خان خلیل د ۱۷ کالو ؤ. د ارباب سکندر خان دپاره د هغهٔ ژوند ډېر اهم ؤ، ځکه چې هغهٔ ته هر څیز د هغهٔ پلار ښودلے وهٔ چې کله هغه ئې د هرې پور جېل نه مړ راوړو نو ارباب صېب ډېر زیات خفه ؤ خو په دې ډېر خوشحاله ؤ چې د هغهٔ پلار د ملک دپاره لویه قرباني ورکړې ده.

ارباب صېب وړاندې وائې چې ارباب سکندر خان صېب بذات خود د پښتنو سره ډېره مینه کوونکے ؤ. وړومبے خو هغه وکیل شو او بیا وروستو د پښتونخوا ګورنر او چې کله ګورنر شو نو هغه د پښتنو خدمت شروع کړو او د دوؤ ځایونو سره ئې ډېره مینه وه یو چترال او بل کرک. ګورنرۍ نه وروستو هغهٔ چترال کښې یو کالج جوړ کړو او بل دا چې د پېښورنه ئې انجینئران بوتلل او هغوی ته ئې دا ووې چې دلته د اوبو نه د بجلۍ جوړولو منصوبې شروع کړې.

په چترال کښې ئې بل کار دا وکړو چې د پېښور نه به هلته د خوراک سامان تلو خو هغه به د پېښور نه ګران ؤ او د هغې پېسې به ئې د چترال نه وصولولې. ارباب سکندر خان دغه سامان د دې ځائے نه د پېښور په پېسو ورکول شروع کړل او د هغوی نه ئې د دغې سامان پېسې اخستل بند کړل.

د ارباب صېب کور ته چې کوم سړک تلو هغه جوړ نهٔ ؤ، ارباب صېب ته فنډ منظور شو چې دغه سړک جوړ کړي خو ارباب صېب دې نه انکار وکړو او د هغې په ځائے ئې په دغه پېسو تر ژوب بلوچستان سړک جوړ کړو. د دې نه علاوه ئې په کرک کښې د اوبو مختلف سکیمونه شروع کړل.

ارباب همایون خان وړاندې وائې چې ارباب سکندر خان په عام ژوند کښې ډېر ساده ؤ، د دې خبرې پته د دې نه هم لګولے شي چې د هغه وخت چټان رساله کښې د ملنګۍ یو تصویر چاپ شوے ؤ، دغه ملنګي د هغهٔ د ګورنرۍ په دوران کښې هم وه، په خپل کور کښې هم ملنګ ؤ او په عام ژوند کښې هم ملنګ ؤ. کله چې ګورنر شو نو تپوس وشو چې ګورنر صېب له څهٔ پاخهٔ کړے شي، په ځواب کښې ورته ووئیلې شو چې پټې، کله چې ګورنرۍ نه ختم کړے شو او کور ته راتلو نو په لاس کښې ئې صندوق ؤ چې پکښې دوه جوړې جامې وې.

د ارباب سکندر خان خلیل یو زوئے دے چې ارباب وهاب خلیل نومېږي، دغه نوم زمونږ د نیکهٔ نوم هم دے. ارباب سکندر خلیل خپل نیکهٔ سره ډېره زیاته مینه لرله او کله چې هغه د لسو کالو ؤ نو

زمونږ نيکۀ وفات شو نو د هغۀ سره د مينې د اظهار کولو دپاره ئې د خپل زوئے نوم وهاب کېښودو.

زمونږ کورنۍ ته سياست راوستو کښې د باچا خان او قاضي عطاءالله خان ډېر لاس دے، زمونږ پلار دوي ته کتل او سياست ئې شروع کړو او د هغۀ د مرګ نه پس ارباب سکندر خان دغه سياست جاري وساتلو. هغۀ د خپل سياست ابتداء د خدائي خدمتګار تحريک نه کړې وه. خو څۀ وخت دپاره هغه ارباب عبدالغفور سره د هغۀ پارټۍ پښتون جرګه کښې ؤ، ارباب عبدالغفور خان زمونږ د کورنۍ مشر ؤ او هغه هم د سياست ابتداء د خدائي خدمتګار تحريک نه کړې وه خو څۀ وخت چې د هغۀ د باچا خان سره اختلاف پېدا شو. ارباب عبدالغفور د پښتون جرګې په نوم پارټۍ جوړه کړه. ارباب سکندر خان به هغۀ سره په دغه پارټۍ کښې ؤ، ځکه چې هغه ئې مشر ؤ او د خپل مشر خبره ئې نۀ غورځوله.

ارباب صېب د پلار د وفات نه وروستو د کور د حالاتو د خرابېدو په وجه نوکري شروع کړه خو مينه ئې بيا هم د علم سره وه، په پښتو کښې ئې آنرز وکړو او بيا ئې د علي ګړهـ نه د ايل ايل بي ډګري واخسته او وکالت ئې شروع کړو. فټ بال سره ئې ډېر شوق ؤ. په هندوستان کښې ئې الهلال کلب کښې داخله اخستې وه او د فټ بال دپاره به هلته تلو حالانکې مور به منع کولو.

ارباب صېب بيا عوامي مسلم ليګ جوائن کړو خو وروستو ئې د قيوم خان له وجې پرېښودو، بيا ئې عوامي ليګ ئې جوائن کړو او بنګال ته لاړو شيخ مجيب سره ملاؤ شو او هغۀ سره ئې تعلق پېدا شو.

ارباب صېب د باچا خان سره د انتهي ون يونټ فرنټ کښې ملګرتيا وکړه او دغه دوران کښې ديارلس کسان قېد شول، جائدادونه ئې ضبط شول.

د ارباب صېب شاعرۍ سره شوق ؤ، هغۀ به هر مانبام قلندر مومند، مهدي شاه باچا، اجمل خټک، کامل مومند سره ناست ؤ او هغوي سره به ئې د شعر و شاعرۍ محفل کښې برخه اخسته.

د ايوب خان صدارتي اليکشن کښې ارباب صېب د فاطمه جناح سره ؤ حالانکې هغه وخت هغه جېل کښې ؤ نو مونږ ته به ئې د جېل نه لارښوونه کوله. د فاطمه جناح انتخاباتو ته په ودرولو کښې د هغۀ ډېر لاس ؤ، ځکه چې هغه به وئيل چې ايوب وهې نو په فاطمه جناح به ئې وهې. دغې اليکشن نه عوامي ليګ مات شو ځکه مولانا بهاشاني بې وفائي وکړه او د چين په وېنا ئې د ايوب ملګرتيا وکړه.

ارباب همايون وائي چې هغه زما ورور نۀ بلکې هغه زما پلار ؤ ځکه چې زمونږ پلار وفات شو هغه وخت کښې ارباب صېب د ۱۷ کالو او زۀ د دوؤ کالو وم نو هغۀ زما پرورش د يو پلار په رنګ کړے دے.

ارباب همايون وائي چې د ارباب سکندر خان د پېدائش ورځ هم يوه تاريخي ورځ ده ځکه چې په کوم تاريخ د اسلاميه کالج افتتاح حاجي صېب ترنګزي کوله نو په هغه ورځ ارباب سکندر خان هم پېدا شوے ؤ.

ارباب همايون خان د دې سوال په جواب کښې چې ارباب سکندر خان خليل يو اديب وۀ د هغوي څومره کتابونه چاپ شوي دي؟ ووئيل چې د هغوي شپږ

کتابونه چاپ شوي دي څه پـه فلسـفه دي او څنې پـه اقتصادياتو ليکلي شوي دي.

په اخره کښې ارباب همايون خان خليـل دا تجـويز ورکړو چې باچا خان پـه کومو جېلونـو کښـې وخت تېـر کړے دے په هغې دې کتبې ولګولې شي چې دې جېـل کښې باچا خان هم جېل تېر کړے دے.

## غمرازي

د پښـتون اداره د زلمـي شـاعر اقبال شـاکر د ورور او د مياشتنۍ مزدور جدوجهد (پښـتو د ايډيټر سليم ناشاد د ترۀ په وفات د خفګان څرګندونـه کـوي او د مرحومينـو د پـاره د بخښاني او د لواحقينو د پاره ئې د صبر دعا کوی.